مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲۶مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۱۷مه | ۴۲۹مه ګڼه

# د جګړو او ناامنۍ اوج؛
## ګالوپ: پنځه اتیا سلنه افغانان د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن دي



۳


## را روانې ټاکنې موږ کوم لوري ته بیایي؟
۲ مخ

## معاصرې اړیکې او د خصوصي ډیپلوماسۍ یا «لابي» اهمیت
۲ مخ

## دې ټکو ته د دندې له بدلولو مخکې پام وکړئ!
۳ مخ

## ځېره
۴ مخ

### نجیب محفوظ



محفوظ د ۳۴ ناولونو او۳۵۰ لنډوکیسو لومړنی عرب لیکوال دی، چې د بشریت د فکري ودې او په دې برخه کې د نوو افکارو د پنځولو له امله د نوبل نړیواله ادبي جایزه یې وګټله.

## ننګرهار کې د یو میلیارد افغانیو په لګښت لسګونه پروژې پرانیستل شوې



د ننګرهار ولایت د کرنې ریاست چارواکي وایي، د کرنې وزیر دغه ولایت ته تېره ورځ د سفر پر مهال د یو میلیارد افغانیو په لګښت، شاوخوا دېرش کرنیزې پروژې پرانیستې.
د دوی په خبره، په ننګرهار کې د پرانیستل شوو پروژو له ډلې د CBARD پروژې له لوري د دغه ولایت په خوګیاڼو، شېرزادو، کوټ، رودات، چپرهار او اچین ولسوالیو کې د ښځو لپاره د ۲۳۰ کوچنیو شنو خونو جوړول دي، چې ټولټال پرې ۱۹ میلیونه او ۵۰ زره افغانۍ لګښت کېږي.
دوی وایي، د ننګرهار د وترنرۍ کمپلکس لپاره د پنځو میلیونو او ۱۸۰ زرو افغانیو په لګښت جوړه شوې ودانۍ هم ګټې اخیستنې ته سپارل شوې، چې اووه خونې، یو د غونډو تالار او نور اړوند ځایونه هم لري.
د دوی په خبره، له دغو پروژو یې موخه په دغه ولایت کې د خلکو لپاره د کار زمینه برابرول او تر ډېره د هغوی اقتصادي ستونزو ته رسېدنه ده.

## پاکستاني پوځیانو د پکتیا په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې پوستې جوړې کړې دي

په دې وروستیو کې د پاکستاني پوځیانو له لوري د پکتیا په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د ډیورنډ فرضي کرښې دې غاړې ته اغزن تار لګول شوی او په افغان خاوره کې یې نوې پوستې جوړې کړې دي.
د ملي شورا غړي او د پکتیا اوسېدونکي وایي، له تېروڅو کلونو راهیسې د دې ولسوالۍ په سپینې شګې سیمه کې پاکستاني پوځیان پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار پر لګولو لګیا دي، خو اوس تازه د دې کرښې په دې غاړه کې پوستې جوړوي.
دوی له افغان حکومته غوښتنه کوي چې د پاکستاني پوځیانو د دغه کار پر وړاندې غبرګون وښیي. د مشرانو جرګې غړی جمعه دین ګیانوال وایي: «پاکستاني ځواکونه په سیمه کې مخکې راغلي، څه موده وړاندې هم دوی مخکې راغلي وو، چې یوازې د ولس له غبرګون سره مخ شول، خو حکومت یې پر وړاندې هېڅ اقدام ونه کړ».
په ورته وخت کې د پکتیا ولایتي چارواکي وایي، تېر کال پاکستاني پوځیانو په ډنډ پټان ولسوالۍ کې ځینې پوستې په غیر قانوني توګه رامخته کړې وې، چې پر وخت یې بېرته مخه ونیول شوه.
خو د ملي شورا غړي افغان حکومت او محلي اداره تورنوي چې د پاکستان د تحرکاتو پر وړاندې چوپ دي او په خپله په سیمه کې خلک له پاکستاني پوځیانو سره لاس او ګریوان دي.
دغه اندېښنې داسې مهال دي چې پر ډیورنډ فرضي کرښه د پاکستان له لوري د اغزن تار غځولو او دې لوري ته د پوستو د جوړېدو په غبرګون کې افغان حکومت تر اوسه هېڅ اعتراض نه دی کړی.

## د سولې په پروسه کې ځنډ لنډمهاله دی او ډېر ژر به بین الافغاني خبرې پیل شي




۳ مخ

## صدیقی: حکومت افغانستان، از اعلام حمایت یوناما از انتخابات ریاست جمهوری استقبال میکند




حکومت افغانستان، از اعلام حمایت هیات معاونیت سازمان ملل متحد یوناما از انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، استقبال کرده است.
یوناما دیروز با نشر یک خبرنامه، ضمن استقبال از آمادگی ها در شرایط دشوار برای برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، گفته است که جامعه جهانی، از انتخابات ریاست جمهوری کاملا حمایت میکند.
سازمان ملل متحد، همچنان بر برگزاری انتخابات شفاف و عادلانۀ ریاست جمهوری تاکید کرده است. قرار است که انتخابات ریاست جمهوری، در ششم ماه میزان برگزار شود.
وزارت امور داخله گفته است که برای برگزاری انتخابات، آمادگی های کامل گرفته اند و حدود ۱۰۰ هزار سرباز امنیتی، در این عرصه به وظیفه گماشته خواهند شد.
صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهور گفته است که حکومت افغانستان، از این اعلام و خبرنامۀ یوناما استقبال میکند.
وی دیروز در صفحۀ تویترش نگاشته است که نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، رسانه ها، عالمان دینی و طرف های دیگر ذیدخل، باید برای برگزاری انتخابات شفاف و عادلانه با حکومت و کمیسیون های انتخابات، مشترکاً کار کرده و از این روند سیاسی حمایت کنند. صدیقی گفته است که حکومت افغانستان که معتقد بر دموکراسی است، متعهد است که به شمول زنان برای تمام همشهریان حق رای دهی بدهند.
به گفتۀ وی، این تلاش های حکومت یک بخش از دستاوردهای ۱۸ سال گذشته در بخش دیموکراسی می باشد.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019




Easy English Learning
+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

# را روانې ټاکنې موږ کوم لوري ته بيايي؟

ولسمشريزو ټاکنو ته لس ورځې پاتې دي، خو لا هم ډېری خلک په دغو ټاکنو کې برخه اخيستو ته زړه نه ښه کوي. لاملونه يې ډېر دي، ځينې خلک د ناامنۍ له امله په ټاکنو کې برخه نه اخلي، ځينې وړ کانديد نه ويني، ځينې فکر کوي چې رايه دوی ورکوي، خو تصميم به امريکا نيسي او ځينې وېره لري چې را روانې ټاکنې به موږ لا ناوړه حالت ته بوځي. نور لاملونه يو طرف، خو اوس دا پوښتنه جدي ده چې راتلونکې ټاکنې موږ کوم لوري ته بيايي؟

د واک د مشروع لېږد لپاره ټاکنې د افغانستان په اساسي قانون کې يوازينۍ ياده شوې لار ده. له همدې امله پر ټاکنو ټينګار کېږي او د اساسي قانون حکم ګڼل کېږي. اوس پوښتنه دا ده چې په را روانو ټاکنو کې د خلکو د رايو پر اساس د واک مشروع انتقال او په دې تړاو د اساسي قانون حکم عملي کېږي او که نه؟ د ټاکنو د ځرنګوالي له اړخه د اساسي قانون حکم نقض کېږي. دا ټاکنې به عمومي، سراسري او رښې نه وي، خو تر دې اساسي او جدي اندېښنه او پوښتنه دا ده چې د واک انتقال به د دې ټاکنو پر اساس وشي او که نه ؟

موږ ټاکنو ته روان يو، خو لا يو کانديد هم نه دی حاضر شوی چې ووايي، د راتلونکو ټاکنو پايلې به مني. په ځانګړي ډول دوه مطرح او پياوړي کانديدان سر له اوسه داسې پيغامونه ورکوي، چې دوی بريالي دي او که پايله د دوی بريالیتوب نه وي، نو منلو ته يې تيار نه دي. همدا لوبه په ۲۰۱۴ ز کال کې وشوه، خلکو رايې ورکړې، خو واک د خلکو د رايو پر اساس انتقال نه شو، بلکې د خلکو د ارادې خلاف د امريکا په مخامخ مداخله د افغانستان د تاريخ، ارزښتونو او اساسي قانون خلاف حکومت جوړ شو. اوس که يو ځل بيا ټاکنې کېږي او پايله يې يو کانديد ونه مني، بيا به څه کېږي؟ ښايي ځواب ساده وي، چې هر چا وګټله، هغه ولسمشر دی او کمېسيون چې څوک ګټونکي اعلان کړل، هغه به واک اخلي او څوک يې چې نه مني، د نظام پر وړاندې ولاړ دي، ولس او امنيتي ځواکونه به ورته ځواب وايي.

خو له بده مرغه خبره دومره ساده نه ده، ځکه لومړی دلته بريا پرېکنده او رښه نه ده. په ټاکنو کې به پراخې درغلۍ کېږي او څوک چې دا ټاکنې ګټي، هغوی به هم پراخې درغلۍ کوي. د دغو درغليو اسناد او شواهد به را ښکاره کېږي، چې بيا د يو کانديد بريا تر پوښتنې لاندې راولي. دا درغلۍ به د شکايتونو کمېسيون څېړي، خو مخالف کانديدان به دا څېړنې او پايلې نه مني. له بله اړخه همدا درغلۍ او اختلافات به بيا بهرنيانو ته د مداخلې زمينه برابروي او هغوی به بيا د افغانستان د خلکو د ارادې، ارزښتونو، تاريخ او اساسي قانون خلاف پرېکړه کوي. تېر ځل خو يې د حکومت په نامه يو نامشروع جوړښت رامنځ ته کړ، دا ځل تر دې د ناوړه جوړښت وېره ده. وروستيو سياسي بدلونو ته په کتو سره بهرنيان، په ځانګړي ډول امريکايان دلته لا ناوړه او خطرناک پلانونه لري چې له ټاکنو را ولاړې شوې لانجې به يې په عملي کولو کې ورسره مرسته وکړي. د همدغو دلايلو پر اساس، روښانه نه ده چې راتلونکې ټاکنې به موږ د يو مشروع حکومت لوري ته بوځي. دا وېره او اندېښنه پياوړې ده چې دا ټاکنې موږ ښايي د لا زيات ناقانونيت، ګډوډۍ او بې ثباتۍ لوري ته بوځي او هېڅوک د ښې راتلونکې تضمين نه شي ورکولی.

# معاصرې اړيکې او د خصوصي ډيپلوماسۍ يا «لابي» اهميت

لیکنه: داوود محمدي

په ۲۱مه پېړۍ کې د نړيوالتوب، نويو چلېنجونو او غير دوديزو امنيتي تهديدونو (Non-traditional Security threats) له امله، د کلاسيکې ډيپلوماسۍ د فعاليت ساحه محدوده شوې ده. ډيپلوماسي عموماً د دولت د ډيپلوماتيکو استازو لخوا پرمخ وړل کيږي، چې د خپل هيواد ملي ګټې په بهرنۍ نړۍ کې خوندي کړي. ډيپلوماتانو په نړيوال سياست کې د رسمي استازو په توګه د خپل هيواد اړيکې له بهرنيو هيوادونو او عناصرو، سازمانونو، ادارو، صنعتي او سوداګريزو شرکتونو سره په سوله ييزه توګه رغولې او پاللې دي. خو د ډيپلوماسۍ په دستګاه کې د ډيپلوماتانو پر ځای، اوس غير دولتي لوبغاړي ننوتلي چې په بهر کې د هيوادونو ګټې خوندي کوي. دا غير دولتي لوبغاړي "لابي ګروپونه" بلل کيږي، چې د بهرنيو هيوادونو په ګټه په کوربه هيواد کې ځينې سياستونه او تګلارې بدلې او يا هم راجوړې کړي. "لابي" هغه عمل دی چې ځينې بانفوذه افراد، ډلې يا حقوقي مرکزونه، مشورتي او تحقيقاتي ګروپونه او خصوصي شرکتونه يې د بهرنيو هيوادونو په استازيتوب د قانون جوړونې، پلي کولو، تګلارې او پرېکړې د بهرني هيواد په ګټه تر تاثير لاندې راولي. د ډيپلوماسۍ دوديزه بڼه چې د ځانګړو مسلکي او تجربه کارو ډيپلوماتانو لخوا پرمخ بيول کېده، لابي شرکتونو د ډيپلوماسۍ بڼه "خصوصي" – Privatization of Diplomacy- ته اړولې ده.

لابي ډلې د خپلو اړيکو او شبکو له لارې، تصميم نيوونکې مرجع ته ځانګړې غوښتنې، وړانديزونه او تګلارې وړاندې کوي چې د لابي د استخداموونکي ګټې خوندي کړي. دا ډلې د خپلو رسمي او غير رسمي اړيکو له لارې نه يوازې حکومتي پرېکړې او تصميمونه کنټرولوي، بلکې د هغو پر پلي کول باندې هم کنټرول لري. د "لابي" کاروبار په امريکا کې قانوني بڼه لري چې د Foreign Agents Act ۱۹۳۸ لاندې يې فعاليتونه څارل کيږي. په دې کاروبار کې دخيل شرکتونه او افراد اړ دي چې حکومتي چارواکو ته د ډاليو او ځانګړو خدماتو وړاندې کولو او د قراردادي مشتريانو د غوښتنو او وړانديزونو په اړه حکومت ته راپور ورکړي. د نړۍ زياتره هيوادونه او صنعتي او سوداګريز شرکتونه يې د امريکا په سياسي، اقتصادي، محيطي او بهرنۍ تګلاره کې د خپلو ګټو خونديتوب او د غوښتنو د پر ځای کولو لپاره له "لابي" شرکتونه سره تړونونه لاسليکوي.

په واشنګټن کې د (K) په نوم جاده هغه ځای دی، چې د بهرنيو هيوادونو او د سترو کمپنيو – ائيربس، ګازپروم....- "لابي ډلو" د مرکز په نوم يادېږي. د لابي ډلې د فعاليت مؤثريت او نفوذ له با نفوذه چارواکو او تصميم نيوونکو ترمنځ اړيکې او شبکې رامنځته کولو پورې تړلې دی. د لابي شرکتونو زياتره غړي په امريکا کې د کانګريس، سنا، پنټاګون، د بهرنيو چارو وزارت او د ملي امنيت د شورا پخواني غړي او چارواکي وي چې د تګلارې جوړولو، پلي کولو او تصميم نيونې د چارو په کنټرولولو ښه پوهيږي. همدا اوس په امريکا کې د سترو هيوادونو له سفارتونو پرته، چې فعاليت يې تيز او د کانګريس، سنا او کابينې له غړو، حکومتي چارواکو او ادارو سره مستقيمې اړيکې لري، د وړو هيوادونو او درېيمې نړۍ سفارتونه د کاري او ارتباطي محدوديتونو له امله، له لابي شرکتونو سره قراردادونه لري چې د خپل هيواد په ګټه د کوربه هيواد په تګلاره او چلند کې تغير راولي.

د لابي شرکتونو تر څنګ، هيوادونه په کوربه هيواد کې هغه ډلې ځانته د "لابي" په توګه استعمالوي، چې له دوی سره ګډې توکميزې، مذهبې او سوداګريزې ګټې او ريښې ولري. په امريکا کې د لابي ډلو فعاليت د نولسمې پېړۍ په لومړۍ لسيزه کې د ايرلنډالاصله امريکايانو لخوا پيل شوې ده، چې په ايرلنډ کې به يې د ملتپالنې د غورځنګونو ملاتړ کاوه. په ۱۹۳۰ ز کال امريکا ته راتښتېدلو المانيانو، وروسته يې د پلرني هيواد لپاره "لابي" کوله. اوس په امريکا کې له همداسې ډلو يوه هم د "امريکايي-اسرائيلو د عامه چارو کميټه – American-Israel Public Affairs Committee – ده چې تل د امريکا پر حکومت، له اسرائيل هيواد سره د ښو اړيکو ساتلو لپاره فشار اچوي. په دې کميټه کې د کانګريس ځينې غړي، حکومتي چارواکي او د سوداګريزو او صنعتي شرکتونو څښتنان هم غړيتوب لري. تر اسرائيلو وروسته، د امريکا او هند سوداګريزه شورا ده، چې د هند په ګټه په امريکا کې لابي کوي. په دې شورا کې هندي الاصله امريکايان، د ټکنالوژۍ او سافټويرونو د کارخونو اجرايوي رييسان او سوداګر ګډون لري. سره له دې چې هند په امريکا کې د BGR لابي شرکت سره تړون هم لري، په کانګريس کې دننه تر ۱۰۰ ډېر استازي د هغه ډلې غړيتوب لري، چې د هند په ګټه لابي کوي.

د درېيمې نړۍ سفارتونه چې د امريکا له مهمو ادارو سره يې اړيکې تتې، واسطه يې کمزورې، په ادارو کې دننه او بهر له بانفوذه اشخاصو سره د ارتباطي شبکې نشتون او د تګلارو جوړونکو او تصميم نيوونکو ته کم لاسرسی لري، اړ دي چې د لابي شرکتونو په واسطه، د امريکا ملاتړ او مرستې تر لاسه کړي، غوښتنې يې ومنل شي او ګټې يې خوندي شي. د دوی په ګټه د تګلارو جوړول، بدلون او مخنيوی او په امريکا کې د سيال هيواد د نفوذ مخنيوی وکړي. هر هغه کس او شرکت چې په مهمو ادارو کې قوي ارتباطي شبکه، د مذاکرې فن، د متبادلو تګلارو جوړولو هنر او د موضوع اړوند پراخ معلومات ولري، لابي يې قوي او د حکومت د سياستونو، تګلارو او چلندونو ډېر اغيز لري.

افغانستان او په امريکا کې د لابي اړتيا

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت، په بهر کې د افغانستان د استازيتوب او ډيپلوماسۍ مسووليت لري، چې اصولاً بايد د مسلکي، تجربه کاره، د مذاکرې پر فن برلاسه، ملي ګټو ته ژمن، د کوربه هيواد او د سيمې له سياسي، اقتصادي او کلتوري وضعيت څخه باخبره او اړوند تحصيل لرونکي ډيپلوماتانو لخوا پرمخ يوړل شي. د طالبانو تر سقوط وروسته او د نوي نظام له رامنځته کيدو سره سم، افغانستان له نړۍ سره شلېدلې سفارتي او ډيپلوماتيکې اړيکې بيا ورغولې. په تيرو ۱۸ کلونو کې، په بهرنيو چارو وزارت کې ډېر مادي تغيرات راغلل، وزارت کې دننه او له هيواده د باندې سفارتونو او کونسلګريو ته نوې ودانۍ جوړې شوې، چې يوه لاسته راوړنه يې بللی شو. خو په ياد وزارت او بهرنيو سفارتونو کې په ظرفيت لوړونې، مسلکيتوب، ژمنتيا او روزنې باندې هيڅ کار ونشو. له تيرو کلونو راهيسې ياد وزارت د يو خاص قوم او ګوند په سهم رسېدلی دی، چې د ملي ګټو پر ځای ځانګړې ډلې او قوم ته کار کوي. په بهر کې د دې وزارت لخوا ليږل شوي ډيپلوماتان د ملي تفرقې، سياسي نظام د تغير او ناسم ذهنيت سازۍ لپاره تبليغات کوي. دا ډيپلوماتان چې د نړۍ مهمو هيوادونو ته د افغانستان په استازيتوب استول شوي، چې نه مسلکي زده کړې لري، نه کاري تجربه، نه د کوربه هيواد په ژبه، کلتور، سياسي او اقتصادي سيستم بلد دي او نه هم ملي ګټو ته ژمنتيا لري.

په پاکستان، هند، ايران، د مرکزي اسيا ګاونډيو هيوادونو، چين، روسيه، سعودي، متحده عرب امارات، جاپان، انګلستان، امريکا، المان، فرانسه، کاناډا او استراليا هغه هيوادونه دي چې د افغانستان سفارتي اړيکې ورسره حياتي ارزښت لري. د همدې اړيکو د رغولو، ساتلو او پاللو لپاره افغان سفارتونه د بهرني سياست اساسي خطوط، مسلکي او تجربه کاره ډيپلوماتانو ته اړتيا لري. ما (ليکوال) چې په اسلام اباد کې د افغانستان له سفارت سره لنډه موده دنده درلوده، دا مې درک کړه چې ډيپلوماتيکه دستګاه کې ژمنتيا، ظرفيت، اړوند تحصيل، له کوربه هيواده خبرتيا، د مذاکرې فن او اصلاحاتو ته اشد ضرورت لري.

په واشنګټن کې افغان سفارت د افغانستان لپاره حياتي ارزښت لري، خو دا سفارت له تيرو ۱۸ کلونو راهيسې د نورو په څېر ډيرې نيمګړتياوې لري. زما په اند حمدالله محب يوازينی سفير و چې په واشنګټن کې يې د افغانستان ښه استازيتوب وکړ. هغه د کانګريس له اوسنيو او پخوانيو غړو، د سپينې ماڼۍ، پنټاګون او ملي امنيت شورا له فعاله او متقاعده چارواکو سره اړيکې رامنځته کړې. محب يوازينی سفير و چې په تحقيقاتي مرکزونو او تېنک ټانکونو کې د افغانستان د امنيت، اقتصادي او سياسي وضعيت په اړه يې ليکچرونه ورکړل. افغانستان چې له تير يو کال راهيسې له ډير نازک او حساس پړاو څخه تېرېږي، د واشنګټن سفارت د افغانستان په اړه د امريکا او نړۍ په تګلاره او چلند کې د بدلون لپاره ډېر کار کولای شي. خو بدبختانه چې په عمل کې دا سفارت له تير يو کال راهيسې يو ځل بيا شنډ دی. په داسې حالت کې کابل ته پکار ده چې د سولې، ټاکنو، نظامي مرستو، د بهرنيو ځواکونو د مسوولانه وتلو او د ترهګرۍ ضد جګړې اړوند، په امريکايي تګلارو او چلند کې د افغانستان په ګټه تغير لپاره "لابي" شرکتونه استخدام کړي.

تير کال، پخواني سفير حمدالله محب په واشنګټن کې د DLA Piper په نوم لابي شرکت سره تړون لاسليک کړ چې د ياد شرکت دوه لابيګران به د افغانستان په ګټه د کانګريس له غړو، د سپينې ماڼۍ له چارواکو او له پاليسي جوړونکو سره اړيکې جوړوي چې د افغانستان په اړه ملاتړ تر لاسه کړي. خو د محب له تګه وروسته ياد شرکت تر اوسه د افغان حکومت د لابۍ لپاره کوم محسوس فعاليت نه دی تر سره کړی. څو ورځې وړاندې د امريکا مشهور لابي ګروپ Squire Patton Boggs يو استازی کابل ته راغلی و چې له افغان حکومت سره په امريکا کې د "لابي" لپاره تړون لاسليک کړي. ياد استازي له ما سره خپله نااميدي شريکه کړه چې د بهرنيو چارو وزارت ځينې چارواکي او په ارګ کې ځينې کړۍ له ولسمشر اشرف غني، حمدالله محب او د ولسمشر د سلاکار محمود فضلي سره زما د ملاقات مخنيوی کوي. ياد شرکت په امريکا کې د دويم نمبر مشهور لابي ګروپ دی، چې د هيوادونو ترڅنګ، سترې کمپنۍ لکه ګازپروم او ائيربيس يې هم مشتريان دي. د سکواير پټن بوګز شرکت تير کال د خپلو خدماتو له برکته ۱.۴ ميلياردہ عوايد تر لاسه کړي وو.

ولسمشر غني چې له امريکا سره د ښو اړيکو پاللو ته ليواله دی، خو د ډونالډ ټرمپ تر ولسمشر کېدو وروسته هغه ونه توانېد چې امريکا ته د سفر بلنه تر لاسه کړي. د ټرمپ په دوره کې افغانستان په امريکا کې خپل نفوذ او ارزښت ورځ تر بلې بايلي. کابل ته پکار دي چې د شنډ سفارت پر ځای بايد لابي ګروپونه استخدام کړي، څو د افغانستان په اړه د امريکا په سياست او رويه کې مثبت او ګټور بدلون راشي.

## يوناما: ټاکنيز کمېسيونونه دې د شفافو ټاکنو لپاره هڅې ګړندۍ کړي

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي يا يوناما د رښو او باوري ټاکنو د تر سره کېدو ترڅنګ ويلي، چې اړوند ټاکنيز بنسټونه بايد د خلکو د رايې ورکولو له قانوني حق څخه د دفاع لپاره خپل ټول امکانات په کار واچوي.

يوناما په يو بيان کې ويلي، چې ټاکنيز کمېسيونونه، مدني ټولنې، نوماندان او نورې اړوندې ادارې چې د ټاکنو په برخه کې کار کوي، بايد د رايې ورکولو له ورځې څخه وړاندې خپلې هڅې دوه برابره کړي، څو ټول پر شرايطو برابر افغانان له خپل قانوني حق څخه په استفادې رايه ورکړي.

د يوناما مشر تداميچي ياماموتو ويلي: «رايه ورکول يوازې د مدني مسووليت خبره نه ده، بلکې په افغانستان کې د لاسته راوړنو د ساتنې او د سوله ييزو سياسي پروسو څخه د ملاتړ ښودلو يوه لاره ده».

يوناما ټينګار کړی چې هېڅوک د ټاکنو پر شرايطو برابر له راجستر شويو افغانانو څخه د رايې ورکولو حق نه شي اخيستی او د ټاکنيزو کمېسيونونو په ګډون يې له نوماندانو، مدني ټولنې، رسنيو او عالمانو څخه غوښتي چې خلک په راتلونکو ټاکنو کې رايې ورکولو ته وهڅوي.

يوناما زياته کړې چې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د باور وړ، شفافو او سراسري ټاکنو په تر سره کولو کې له کمېسيونونو سره همکاريو ته ژمن يو.

په ورته وخت کې د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ويلي چې د جمهوري رياست په راتلونکو ټاکنو کې د عدالت تامينولو ته ژمن دي.

دغه کمېسيون ويلي: «د معتبرو او شفافو انتخاباتو د تضمين لپاره د يوناما په ګډون، د نړيوالې ټولنې ملاتړ ډېر مهم دی».

يوناما دغه راز پر ټاکنو د څار رول مهم بللی او له نوماندانو يې غوښتي چې د ټاکنو په پروسه کې د شفافيت د تامينولو لپاره خپلو استازو ته د نظارت باورليکونه تر لاسه کړي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي چې تر اوسه يې ۲۲ ګوندونو او سياسي بنسټونو، د مدني ټولنې ۲۱ ناظرو بنسټونو، ۱۱ رسنيو او ۱۵ نړيوالو بنسټونو ته له ټاکنو څخه د نظارت باورليکونه ورکړې دي.

د دغه کمېسيون د معلوماتو پر بنسټ، تر اوسه د ټولو هغو ناظرينو شمېره چې له دوی سره يې نومليکنه کړې، له ٦٠ زرو څخه پورته شوې او دا لړۍ لا هم دوام لري.

يوناما همداشان له ټولو کانديدانو او رايه ورکوونکو غوښتي چې د ټاکنو د شفافيت په خونديتوب کې ونډه واخلي او په هېڅ ډول په ټاکنيزو بې نظميو کې ښکېل نه شي.

ټاکل شوې چې ولسمشريزې ټاکنې د تلې په شپږمه په ټول افغانستان کې د رايې ورکولو په ۴۹۴۲ مرکزونو کې تر سره شي.

# د جګړو او ناامنۍ اوج؛

## ګالوپ: پنځه اتیا سلنه افغانان د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن دي



ناامنیو او د جګړې تر سیوري لاندې سخت ژوند افغانان اندېښمن کړي دي. تازه د ګالوپ نړیوال څېړنیز مرکز موندنې ښيي، چې ۸۵ سلنه افغانان د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن دي. دغه نړیوال مرکز وايي چې د اندېښنو ستر لامل، ناامني، کمزوری اقتصاد او نه پرمختګ دی. د دې نړیوال تحقیقاتي مرکز د نظر پوښتني پایلې ښيي، چې افغانانو د پام وړ پرمختګونه نه دي کړي او ۸۵ سلنه افغانان د خپل ژوند او راتلونکي په تړاو ژورې اندېښنې لري. دا په نړۍ کې د راتلونکي په اړه د اندېښمنو ملتونو تر ټولو لوړه شمېره ده. د نظرپوښتنې پر اساس، د افغانانو خوشالۍ ۵۲ سلنه د ۲۰۱٦ ز کال په پرتله کمې شوې دي.

د ګالوپ نړیوالې موسسې د افغانانو د ژوند، وضعیت او د هغوی د راتلونکي په تړاو د خپلو نظرپوښتنو پایلې اعلان کړې.

د دې تحقیقاتي موسسې د پایلو پر بنسټ، د راتلونکي په تړاو د افغانانو هیله مندي تر ټولو ټیټې کچې ته راغلې ده. د سرچینې په وینا، ۵۲ سلنه افغانانو ویلي چې اوسمهال د تېر په پرتله ډېر اندېښمن دي. په داسې حال کې چې دا شمېر په ۲۰۱٦ ز کال کې ۴۲ سلنه وه. څېړنې ښيي چې د تېرو کلونو په پرتله په ۲۰۱۹ ز کال کې د افغانانو د ناهیلۍ کچه خورا لوړه شوې ده. سرچینه کاږي: ((د تېرو دوو پرله پسې کلونو او ۲۰۱۸ ز کال په اوږدو کې هېڅ افغان خپل راتلونکی، چې له پرمختګ او هیلو سره مل وي، سم نه دی اټکل کړی. د هغو افغانانو شمېر چې د راتلونکي په تړاو تشویش لري او یا ځورېږي، ۸۵ سلنه ثبت شوی دی، دا ریکارډ نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د نړۍ په کچه دی)).

دغه مرکز په هېواد کې د خلکو د اندېښمنېدو او ناهیلۍ تر ټولو ستر لامل روانه جګړه بللې ده. سرچینه کاږي چې همدا اوس په افغانستان کې سخته جګړه روانه ده او خلک د جګړو تر سیوري لاندې ژوند کوي، نو ځکه د خپل ځان د مصونیت له پلوه ډاډمن نه دي. سرچینه کاږي، د راتلونکي په اړه اندېښنې او ناهیلي د جګړو زېږنده ده او حکومت باید د خلکو د امنیت په تامین کې تر بل هر وخت خپله هڅه ډېره کړي.

ګالوپ په خپل راپور کې وایي چې د مصونیت نشتون د خلکو د اقتصاد د کمزورۍ سبب هم شوی دی. د سرچینې په خبره، ناامنۍ ته په کتو، خلک دا هڅه نه کوي چې خپل اقتصادي وضعیت ښه کړي، پرمختګ وکړي او یا د ژوند لپاره ځان ته غوره شرایط مساعد کړي.

د ګالوپ څېړنې ښيي چې خلک د ښه اقتصاد د جوړولو پر ځای، دا غوره بولي چې له افغانستانه ووځي او په بهر کې ځان ته خوندي ژوند جوړ کړي. په راپور کې راغلي چې د راتلونکي په اړه اندېښنې او ناهیلي د کډوالۍ تر ټولو ستر لامل دی او له همدې امله سلګونه خلک هڅه کوي چې ځان او کورنۍ یې له افغانستانه وباسي.

دغه نړیواله تحقیقاتي موسسه داسې مهال په افغانستان کې د روان وضعیت او خلکو د ناهیلۍ په اړه راپور خپروي، چې د سولې خبرو درېدو او جګړو شدت د خلکو اندېښنې څو برابره کړې دي. د ټاکنو روان نامعلوم برخلیک او په افغانستان کې کمزوری امنیت نور هغه عوامل دي، چې د راتلونکي په اړه له خلکو تمې اخلي.

په کابل او نورو لویو ښارونو کې ناسم امنیتي وضعیت، د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه، اداري فساد، کمزورې حکومتولي او ناسم سوداګریز شرایط هم هغه څه دي چې په هېواد کې یې د اقتصادي ودې مخه نیولې او د خلکو ناهیلي یې ډېره کړې ده.

## ناټو: د سولې په پروسه کې ځنډ لنډمهاله دی او ډېر ژر به بین الافغاني خبرې پیل شي



په افغانستان کې د ناټو سازمان ملکي استازي نیکولاس کې د ولسمشرۍ ټاکنو پر کاندیدانو او سیاسي ګوندونو غږ کړی، چې د ټاکنو ټول اصول مراعات کړي.

نوموړي چې پرون مزارشریف ښار ته تللی و همدا راز یې هیله څرګنده کړې، چې ډېر ژر به بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

هغه په مزارشریف ښار کې خبریالانو ته ویلي، بلخ ولایت ته یې د سفر موخه دا ده څو وښیي چې دغه سازمان لا هم د پخوا په څېر له افغان ځواکونو سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

هغه زیاته کړې چې د ناټو غړي هېوادونه به تر هغې په افغانستان کې پاتې شي، څو چې افغانان ورته اړتیا ولري.

د نوموړي په خبره، بهرني ځواکونه به له افغان ځواکونو سره یو ځای د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو امنیت خوندي کړي.

هغه ویلي: «موږ به تر هغه په افغانستان کې پاتې شو، چې مطمین شو دغه هېواد بیا د ترهګرو په ځاله نه بدلېږي».

نیکولاس کې زیاته کړې چې د افغانستان روانه ستونزه یوازې د سولې او سیاسي تفاهم له لارې حل کېدای شي.

نوموړي دا هم ویلي چې له طالبانو سره د سولې مذاکراتو ځنډېدل لنډمهاله دي او ډېر ژر به بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

د هغه په خبره، ناټو ځواکونه به له افغان امنیتي ځواکونو سره مرسته وکړي چې تجهیز شي، وروزل شي او په دې ډول د سولې لپاره شرایط برابر شي.

دغه بهرني ډیپلوماټ همدا راز ویلي چې نړیواله ټولنه او ناټو سازمان په افغانستان کې له روڼو او عادلانه ټاکنو څخه ملاتړ کوي.

د هغه په خبره، افغانان نه غواړي چې د ټاکنو په پروسه کې د درغلۍ تېرې ترخې تجربې بیا تکرار شي.

نوموړي هیله مندي ښودلې چې د ټاکنو کمېسیون د رهبرۍ نوی والی، بایومټریک سیسټم او همدا راز په ټاکنو او شکایاتو ته د رسېدو کمېسیونونو کې د بهرنیو کمېشنرانو شتون به مرسته وکړي، څو انتخابات په شفاف ډول تر سره شي.

هغه په کاندیدانو او سیاسي ګوندونو هم غږ کړی چې د ټاکنو ټول اصول مراعات کړي.

د ده په خبره، افغانان په سختو امنیتي شرایطو کې ټاکنو ته ځي او په خبره یې باید چې د پرېکړې احترام یې وشي.

## ټاکنو کمېسیون: د ناامنیو له امله په ۴۳۱ مرکزونو کې ټاکنې نه کېږي



په داسې حال کې چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته محدودې ورځې پاتې دي، خو د جګړې د شدت له امله ښایي د ډېرو ولایتونو په ټاکنیزو مرکزونو کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره نه شي.

د ټاکنیزو کمېسیونونو چارواکو د ولسي جرګې د استعمایه غونډې پر مهال ویلي، چې ناامني لا هم د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر وړاندې ستر خنډ دی او د جګړې له امله به په ځینو مرکزونو کې ټاکنې ونه شي.

دوی ویلي چې د ناامنیو له امله به د رایې اچونې په ۴۳۱ ټاکنیزو مرکزونو کې ټاکنې ونه شي.

د ټاکنو کمېسیون د دارالانشاء رییس حبیب الرحمان ننګ ویلي: «د امنیتي ادارو د ارقامو له مخې به په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې ۴۳۱ مرکزونه د ناامنۍ له کبله تړلي وي».

دوی دغه راز زیاته کړې چې د ټاکنیزو بنسټونو له نظارت پرته راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې شفافې نه شي تر سره کېدای او هڅه کوي چې په راتلونکي کې ټاکنې په سرتاسري ډول تر سره کړي.

په ورته مهال د ولسي جرګې غړو د تېرې ورځې عمومي غونډې پر مهال د هېواد د امنیتي وضعیت په تړاو اندېښنه ښودلې او زیاته کړې یې ده چې د امنیتي ادارو د بې کفایتۍ له امله ورځ تر بلې جګړه زور اخلي.

د ولسي جرګې غړي سید اشرف الدین عیني ویلي: «حکومت د امنیت د ټینګښت په برخه کې هېڅ ډول اقدام نه دی کړی او د ډېرې ولایتونو مرکزونه ان له سقوط سره مخ دي».

وکیلانو له دواړو غاړو غوښتي چې د جګړې درولو په هدف ژر تر ژره اوربند اعلان کړي.

د ناامنیو له امله د ټاکنیزو مرکزونو تړل کېدل داسې مهال دي، چې وسله والو طالبانو وار له مخه د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ګډوډولو خبر ورکړی او ګواښ یې کړی چې د ټاکنو په ورځ به د رایې اچونې مرکزونه په نښه کړي.

## ټرمپ: متحده ایالتونه تیار دي چې د سعودي د تېلو پر مرکزونو برید ته ځواب ورکړي



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، داسې نښې شته چې امریکا باور وکړي چې د سعودي عربستان د تېلو د تولید پر سترو چاڼځایونو برید چا کړی دی.

هغه ویلي، متحده ایالات دې ته تیار دي چې د سعودي عربستان د تېلو د تولید پر چاڼځایونو د شنبې د ورځې برید ته ځواب ورکړي.

ولسمشر ټرمپ په یوه ټویټ کې ویلي: «د سعودي عربستان د تېلو د تولید پر تاسیساتو حمله شوې، دا چې دا حمله چا کړې، دلایل لرو، لاس په ماشه یو، خو عامل یې باید تایید شي. موږ دې ته هم منتظر یو چې سعودي عربستان څه وایي چې د دوی په باور د دغې حملې تر شا د چا لاس دی او تر کومو شرایطو لاندې به یې موږ پر وړاندې اقدام کوو».

په ورته وخت کې یوه لوړپوړي امریکایي چارواکي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز خبري آژانس ته ویلي، چې دغه برید له هغه لوري شوی چې ښیي ایران پکې لاس لري او ښایي ورځخه په کروز میزایلو کې کار اخیستل شوی وي، نه بې پیلوټه الوتکې چې د ایران ملاتړو حوثي یاغیانو یې د مسوولیت اخیستو په ترځ کې خبره کړې وه.

بلخوا ایران د امریکا هغه تورونه رد کړي چې ګواکې د دغه برید تر شا د ایران لاس دی او خبرداری یې ورکړی چې که امریکا کوم پاروونکی اقدام وکړي، میزایل یې په سیمه کې په وچه او اوبو کې امریکایي ځواکونه په نښه کولی شي.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند عباس موسوي د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مایک پامپیو د هغو تورونو چې ویلي یې وو، تهران نړۍ ته پر عرضه کېدونکې انرژۍ باندې بې ساری برید کړی، په یوه بیان کې وویل چې ایران په دغه برید کې لاس نه لري او دغه تورونه یې بې ګټې او بې مانا ګڼلي دي.

هغه ویلي چې د دغو تورونو موخه یوازې دا ده چې د ایران پر وړاندې د راتلونکو اقداماتو لپاره توجیه ولټول شي.

په ورته وخت کې تر دغو ناندریو وروسته د ایران د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو یوه جګپوړي قوماندان خبرداری ورکړی، چې هېواد یې جګړې ته چمتو دی.

د ایران تسنیم نیمه دولتي خبري آژانس د قوماندان امیر علي حاجي زاده له قوله خبر ورکړی، چې ویلي یې دي، ټول باید پر دې پوه وي چې د امریکایانو ټولې اډې او د هغوی الوتکې وړونکې کښتۍ تر ۲۰۰۰ کیلومتره واټن کې دي چې زموږ میزایل ور رسېدلی شي.

د یادونې ده چې له دغه برید وروسته د نړۍ په بازارونو کې د برینټ اومو تېلو بیه په سلو کې ۱۹ سلنه لوړه شوې او د یوه بېرل تېلو بیه څه کم ۷۲ ډالرو ته رسېدلې ده.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جگړه




**د پاکستاني طالبانو راپورته کېدل**

وروسته له هغه چې د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې د طالبانو رژیم د امریکایي هوایي بریدونو په ترخ کې ړنگ شو، له کندهاره د طالبانو مشران او ډېر شمېر جنگیالي د پاکستان سویل لوېدیځ ولایت د بلوچستان مرکز کوټې ښار ته لاړل. له روسانو سره په ۱۹۸۰ز کال د افغان جهاد پر مهال کوټه او نورې سیمې یې د مجاهدینو امن ځایونه وو. د القاعدې ژوبلو غړو او د دې سازمان مهم کسان د طالبانو او پاکستاني خواخوږو له لوري فاټا ته یوړل شول. القاعدې له امریکایي ځواکونو سره د ننگرهار په توره بوړه او د پکتیا په شاهي کوټ کې جگړه کوله چې وروسته بیا د توچي او گومل تنگیانو له لارې وزیرستان ته لاړل. د هغې نظریې پر خلاف چې پاکستاني طالبان د سپتمبر له ۱۱مې وروسته را پیدا شول، یو ناسم نظر دی، ځکه پاکستاني طالبان پخوا په افغانستان کې وو، د طالبانو د رژیم له ړنگېدو وروسته هغوی بېرته پاکستان ته ستانه شول. ځیني طالب قومندانان خپله د وزیرستان اوسېدونکي وو. هغوی ډېری یا د پاکستاني مذهبي گوندونو یا اسلامي سازمانونو غړي وو یا خو په فردي توگه له افغان طالبانو سره یو ځای شوي وو.

وزیرستان ته د القاعدې پر مشرانو سربېره له منځنۍ اسیا او چین څخه هم افراطیان راغلل. هغه طالب مشران چې د همدې سیمې اوسېدونکي وو، له وخته راغلي وو، د خپلو مېلمنو د هرکلي لپاره یې چمتو والی نیولی و. د شمالي او جنوبي وزیرستان لیرې پرتې ولسوالۍ ۱۲۰۰۰ مربع کیلومتره مساحت لري. یاغیانو ته اسانه وه چې د دې سیمې په ۱.۵ میلیونه وگړو کې پټ شي. هغوی په کلیو، درو، ځنگلونو او د خلکو په منځ کې ځای پر ځای شول. یاغیانو د دې سیمې له خلکو څخه هم د جنگیالیو په توگه کار اخیست.

وزیرستان ته د القاعدې او طالبانو د راتگ پر مهال د پاکستان حکومت ونه توانېد چې د هغوی د مخنیوي لپاره پوځیان ولېږي. پاکستاني پوځیان له تورې بوړې سره سرحد لرونکو ولسوالیو خیبر او کورمې ته لاړل، کورمه کې یې د ځایي خلکو په همکارۍ د القاعدې په سلگونو غړي ونیول، خو د پاکستاني پوځیانو کمښت د دې لامل شو چې القاعده او نورې ترهگرې ډلې په فاټا کې ځای ونیسي. ځیني القاعده مشرانو مومند اجنسۍ ته هم لاره پیدا کړې وه، هغوی له تورې څخه د کابل سیند او لعل پورې ولسوالۍ له لارې پاکستان ته راغلي وو.

پاکستان په ډاگه ووېل چې له ترهگرۍ سره جگړه کې د واشنگټن ملگری و، خو په خپله خاوره کې یې د القاعدې پر موجودیت سترگې پټې کړې او پرې منکر شول. پاکستاني حکومت پاکستانیانو ته هم غوږ ونه نیوه، له امریکا سره په نوې ملگرتیا کې یې خورا لېوالتیا لرله. هغوی یوه کلاسیکه دوه مخې لوبه پیل کړې وه، هر چا ته به یې د هغوی د خوښې پیغامونه ورکول. د ۲۰۰۲ز کال په پیل کې سویلي وزیرستان چې د ټولو اوو ایجنسیو په منځ کې تر ټولو پراخه او پر نفوسه سیمه ده، د زرگونو القاعدې او د منځنۍ اسیا جنگیالیو مېشت ځای شو. طالبان په دې سیمو کې بلد وو. کلونو کډوالۍ، پر پوله تگ او راتگ او په ۱۹۸۰ز لسیزه کې په پاکستاني مدرسو کې د طالبانو زده کړو هغوی له دې سیمو سره خورا بلد کړي وو. په فاټا، نورو پښتنو سیمو او ټول پاکستان کې مدرسو په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هغوی ته جنگیالي ورکول. نړیواله ټولنه په نظامي توگه په افغانستان کې بوخته شوه، پاکستاني حکومت د یاغیانو پر وړاندې سترگې پټې کړې، ځکه نو د پښتنو سیمې د القاعدې له غړو ډکې شوې.

په پاکستان کې د ترهگرو پر موجودیت د سترگو پټولو پالیسۍ پر وړاندې پاکستان د نړیوالو له سختو فشارونو سره مخ شو چې ترهگر په نظامي توگه وځپي. وروسته له هغه چې د ۲۰۰۳ز کال په ډسمبر کې پر پاکستاني ولسمشر پروېز مشرف بریدونه وشول، د ترهگرو د ځپلو لپاره د ۲۰۰۴ز کال په پسرلي کې لومړي عملیات پیل شول. د لومړیو عملیاتو په پایله کې له ترهگرو سره د ځایي خلکو ملاتړ او خواخوږي پیل شوه. یاغیان له خلکو او ځایي ادارو څخه پیاوړي وو، ځکه نو په قبایلي سیمو کې نور بدلونونه را روان وو. په ټول ۲۰۰۴ز کال جگړه یوازې په وانه او شاکي درو کې روانه وه. د دې سیمو د خلکو قدرت تر ډېره د احمدزیو وزیرو قوم په لاس کې دی. په وانه کې د طالبانو د مشر نیک محمد له وژل کېدو سره ۲۰۰۴ز کال جگړې لا هم زور واخیست او لمنه یې لا پراخه شوه. په وانه کې د سختو عملیاتو او جگړو له کبله ترهگر له وانه څخه د محسودو سیمې ته وتښتېدل. د ۲۰۰۴ز کال تر پایه، جگړه غرنیو سیمو په ځانگړې توگه هغو سیمو ته چې محسود وگړي پکې مېشت وو، وغزېده.

د جگړې په ترخ کې عبدالله محسود او بیت الله محسود را پیدا شول او د پاکستانیو طالبانو مشري یې په غاړه واخیسته. هغوی هم د نیک محمد په څېر یو وخت د افغان طالبانو لپاره په جگړه بوخت وو. عبدالله محسود وروسته له هغه چې د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې په افغانستان کې د جگړې پر مهال ونیول شو، پنځه ویشت میاشتې یې د کیوبا په گوانتانامو زندان کې تېرې کړې وې. تر دې وړاندې چې د هغه په اړه یې کره پلټنه کړې وای، امریکایي ځواکونو نوموړی په تېروتنې سره خوشې کړی و. **دوام لري...**

# نجیب محفوظ

شفیق امیرزی



نجیب محفوظ په ۱۹۱۱ز کال کې په قاهره کې دې نړۍ ته راغلی دی. په ۱۹۳۵ز کال کې یې د قاهرې له پوهنتون د فلسفې په برخه کې د لیسانس سند اخیستی دی. له ۱۷ کلنۍ یې لیکوالي پیل کړې ده او لومړنی ناول یې په ۱۹۳۹ز کال کې خپور کړی دی. د قاهرې په اړه د هغه درې ټوکیز ناول د نوموړي له مهمو کارونو گڼل کېږي. دا ټوکونه بینالقصرین، قصرالشوق او السوکریه نومېږي.

د هغه پلار حکومتي کارکوونکی و، ده هم په حکومت کې کار او فعالیت پیل کړ. له ۱۹۳۴ ز کاله بیا تر ۱۹۷۱ز کال پورې یې د حکومت په بېلابېلو برخو په تېره فرهنگي برخه کې کار کاوه. په لومړي سر کې یې د موقوفاتو په نامه وزارت کې په کار پیل وکړ، بیا د هنر په اداره کې د سانسور مدیر شو، بیا له سینماگرانو د ملاتړ بنسټ رییس شو او په پای کې د مصر د فرهنگ وزارت سلاکار و. هغه ۳۰ داستاني کتابونه لیکلي دي.

د محفوظ ډېری اثار د مصر د هغه وخت د ټولنې له حالاتو سره په اړیکه کې دي. په دې کیسو او ناولونو کې یې د هغه وخت د خلکو ژوند انځور کړی دی. د هغه ډېر کتابونه په فلمونو هم اوښتي. په دې مانا چې تکړه ډایرکټرانو فلمونه ترې جوړ کړي دي. له دې ډلې یو هم (زموږ د سیمې هلکان) دی چې پر داستان یې فلم جوړ شوی دی. د دې داستان د لیکلو له امله پر نجیب محفوظ په ځینو هېوادونو کې بندیزونه هم ولگېدل. نجیب محفوظ تورن شو چې په دې داستان کې یې د دینونو په برخه کې بې احترامي کړې ده او باید پر اثارو یې بندیز ولگول شي. وروسته سلمان رشدي هم ځیني کتابونه ولیکل، خو مصري علماوو به ویل، که نجیب محفوظ مجازات شوی و، نو سلمان رشدي به هم دا جرئت نه وی کړی چې د محفوظ په څېر یې په ځینو کتابونو کې مذهبونو او دینونو ته سپکاوی کړی وی.

سره له دې چې لیکوال د ټي ایس ایلیټ په باور، د خپلو افکارو په بیان کې ازاد دی، خو له ټولنې سره د لیکوال ټکر د هغه د بربادۍ په مانا دی. ډېر لیکوالان شته چې له خپلو ټولنو او د دوی له افکارو سره د ټکر له امله له سترگو لوېدلي دي. محفوظ هم ډېر وخت په مصر کې د خپلو ځینو لیکنو او داستانونو له امله تر بندیزونو لاندې و او مخالفان یې هم کم نه وو. په مصر کې د هغه وخت مشهور دیني عالم عمر عبدالرحمن هم یو ځل همداسې ویلي وو، چې سلمان رشدي د نجیب محفوظ د بښل کېدو له امله د هر څه لیکلو جرئت پیدا کړی دی. همدا خبره وه چې د عمر عبدالرحمن ځینو پلویانو په نجیب محفوظ پسې را واخیسته. سره له دې چې عمر عبدالرحمن وویل، د ده د خبرې مانا د نجیب محفوظ پر ضد د کومې فتوا صادرول نه وو، خو پلویانو یې هغه فتوا وگڼله او یو ځل یې پر نجیب محفوظ برید وکړ. دوی هڅه وکړه چې هغه ووژني، خو محفوظ په ستوني کې سخت ټپي شو. له درملنې وروسته بیا د عمر تر پایه له ساتونکو سره گرځېده او حکومت د ده ساتنه کوله.

نجیب محفوظ په یوه ځانگړې ماحول او تاریخي پېر کې ژوند کاوه. د هغه ماشومتوب د مصر په کړکېچنو کلونو کې تېر شوی دی. په ۱۹۱۹ز کال کې چې په مصر کې جگړې روانې وې، محفوظ د ماشومتوب کلونه تېرول. په همدې وخت کې انگلیسي ځواکونو هم په مصر کې حضور درلود. ده به چې د کور له کړکۍ بهر کتل، نو انگریزي عسکر به یې لیدل. محفوظ وایي، همدې کشمکشونو د ده پر شخصیت ډېر اغېز پرېښود. د محفوظ مور بیا د الاظهر پوهنتون د یوه استاد لور وه، مورنی نیکه یې هم لیکل کول او تکړه استاد و. تر څنگ یې پلار هم دولتي مامور و، نو ځکه یې پر ده هم اغېز وکړ او د شخصیت په وده کې یې دا مسایل مثبت تمام شول.

محفوظ خپل ډېر اثار او کیسې په قاهره کې لیکلي دي. هغه په لومړي سر کې د مصر له تاریخ سره خورا ډېره علاقه لرله. ده به د مصر تاریخ مطالعه کاوه او بیا به یې کوښښ کاوه چې د دغه هېواد پخوانی تاریخ په هره بڼه چې وي، تر خلکو ورسوي. د مصر تاریخي عظمت، دودونه، افکار، د افکار بدلون او نور ورته مسایل د محفوظ د داستانونو تر ټولو مهمې سوژې وې.

محفوظ هغه وخت ځوان و، نو د نړۍ د نورو لیکوالانو لیکنې یې لوستلې. مدرنیزم او د مصر د دودیزې ټولنې بدلول یې د لیکلو مفکوره شوه. ده غوښتل په مصر کې ځیني حاکم دودونه ختم کړي او په دې توگه دغه هېواد د نړۍ له مدرنیستي جریانونو سره یو ځای کړي. تر ډېره یې د فرانتیس کافکا، مارشل پروسټ او جیمز جویس اثار لوستل. بیا به یې د دوی تر اغېز لاندې لیکل کول. ده په لیکنو کې خپله مفکوره پاللـه، د ده اثار چې ولوستل شي، لوستونکي پوهېږي چې دی پر کومه لار روان و. هغه غوښتل چې سوسیالېزم او ځینو نورو مواردو ته هم په خپلو لیکنو کې ځای ورکړي. ده داسې ډېر شیان هم لیکل چې د مصر په هغه وخت ټولنه کې یې لیکل جرم و او له همدې امله ډېر وخت له ربړونو او ستونزو سره هم مخ شوی دی.

د دې تر څنگ یې کلاسیک روسي لیکوالان هم لوستل او له دوی په خپلو اثارو کې اغېزمن و. محفوظ تر ډېره په قاهره کې لیکل کړي دي، نو د لیکوالۍ چاپېریال یې هم قاهره او شاوخوا سیمې دي. د هغه کرکټرونه د قاهرې عادي اوسېدونکي دي چې په دغه ښار کې له روانو بدلونونو او حالاتو سره لاس او گریوان دي. دوی د مدرنیزم او د نړۍ د پرمختگ له امله او همدا راز په خپل ذهن کې د دودونو د بایللو له وېرې سره لاس او گریوان دي او د محفوظ اثارو همدغه وېره او وهم انځور کړې دي.

هغه په ډېره بریالۍ توگه د خپلو کرکټرونو داخلي یا ذهني حالت انځوروي. په دې لړ کې خپل فلسفي او ټولنیز افکار هم ځایوي. دی د خپلو نظریاتو پر مټ په کرکټرونو کې سیاسي، اخلاقي او سنتي تحرک پیدا کوي. مخکې مو هم ووېل چې د محفوظ کار په اصل کې په ۱۹۵۰ز کال کې د مصر په اړه د دریو کتابونو له لیکلو پیل شو. دغه کتابونه په بېلو پړاوونو کې د مصر د دریو نسلونو ژوند بیانوي او په دریو بېلو کتابونو او داستانونو کې راځي. همدې کتابونو نجیب محفوظ ته په مصر کې یو ځانگړی ځای ورکړ، ځکه په هغه کې یې د مصر ډېرو ناوړه دودونو ته د نقد گوته نیولې وه. د یو څه وخت لپاره په ۱۹۵۲ز کال کې محفوظ له لیکلو او خپرولو لاس واخیست. خو بېرته یې په ۱۹۵۹ز کال کې بیا لیکوالۍ، لیکلو او خپرولو ته مخه کړه. له همدې وروسته یې سلگونه کیسې او ننداري ولیکلې.

(Palace of Desire) یې د همدې دریو کتابونو له ډلې دی. په هغه کې د یوه توند خویه، دودپال او خورا قهرجن کس کیسه بیان شوې ده چې خپله کورنۍ په ډېرو سختو شرایطو کې ساتي او له هر ډول ازادۍ یې محرومه کړې ده. کیسه نه یوازې دا کورنۍ تر بحث لاندې نیسي؛ بلکې په مصر کې د هغه وخت ظالمانه دودونه ټول څېړي او پایلې یې له لوستونکو سره شریکوي. د انډیپېنډنټ مجلې د ادبي برخې د تحلیلونو او لیکنو مسوول او نقاد فیلیپ سټوراټ وایي، چې د محفوظ ډېر کتابونه یې انگلیسي ته ژباړلي دي. د ده په خبره، د نړۍ په ادبیاتو کې د (Palace of Desire) په څېر اثر نشته او دا یو بې جوړې اثر گڼل کېږي. هغه وایي، دا د تولستوی او نورو لیکوالانو شهکارونو ته ورته اثر دی، چې تر اوسه یې مثال په نړۍ کې نشته. داستان ورور ورو مخ ته روان وي، عجله او بېړه پکې نشته. د نړیوالو لیکوالانو او نقادانو په باور، محفوظ بریالی شوی دی چې مهمې صحنې په خورا ښه شکل سره و اوبي او د کرکټرونو ترمنځ ابهام ورک کړي. هغه په خورا زړه راښکونکې توگه صحنې انځور کړې دي او د مصر د دودیزې ټولنې مسایل یې په دغه کتاب کې نقد کړي. تر څنگ یې د هغه وخت سیاسي جریان ته هم اشاره کړې ده. د ایټالیا او انگلیس لاسوهنې یې تر ارزونې لاندې نیولې دي او د دوی تاثیرات یې پر مصري ټولنه هم د بحث موضوع ده.

محفوظ په سیاسي لحاظ هم له ځینو مفکورو متاثر و. دی پخپله هم وایي چې له ټولو لیکنو مې د سیاست بوی حس کولی شی. هغه د سوسیالېزم او ډیموکراسۍ دواړو پلوی و. دواړو ته یې په خپلو لیکنو کې کمپاین کړی، خو تر څنگ یې بیا د مذهبي افراطیت سخت مخالف سړی و او پر وړاندې یې کلک دریځ درلود.

محفوظ په ۱۹۸۸ز کال کې د بشریت د فکري ودې او په دې برخه کې د نوو افکارو د پنځولو له امله د نوبل نړیواله ادبي جایزه وگټله. په دې توگه نو دی لومړنی عرب لیکوال و چې د نوبل جایزه گټې. محفوظ د ناروغۍ له امله د نوبل جایزې اخیستو ته له تگه پاتې شو، خو په یوه متن کې یې لیکلي وو:((زه د دوو تمدنونو اولاد یم. دغو دوو تمدنونو د تاریخ په یوه ځانگړې پړاو کې له خوښۍ ډک امتزاج درلود. لومړنی تمدن اووه زره کلن دی او دویم تمدن چې تر ۱۴۰۰ کاله پورې عمر لري. زه د اسلامي تمدن په اړه ډېر څه نه وایم، دا چې موږ په بشریت کې برابري رامنځ ته کړه، یو باعظمته پیغمبر مو درلود، موږ ازادي راوسته، بشر او نړۍ ته دا هرڅه معلوم دي. خو یوه بل څه ته اشاره کوم، مسلمانانو چې کله په بریالۍ توگه بیزنتین ونیو، نو سلگونه کسان یې له ځان سره بندیان کړل. بیا یې له مقابل لوري وغوښتل چې مسلمانان به بندیان ور ازادوي، خو دوی به د بندیانو په مقابل کې د لرغوني یونان د طب، ریاضیاتو، هندسې او فلکیاتو کتابونه ورکوي. مسلمانانو کتابونه واخیستل او بیزانتین ته یې بندیان ورخوشي کړل. همدا د انساني روح عظمت او راتلونکي بشریت ته د سپېڅلي روح پاک نیت ثابتوي)).

محفوظ د ۲۰۰٦ز کال په اگسټ کې د زړه د حملې له امله په قاهره کې ومړ. سره له دې چې هغه مخکې هم د زړه، سږو، معدې او گردو له ناروغیو کړېده، خو کله چې به یې د زړه ناروغي خورا شدیده شوه. هغه د حکومت له لوري په خورا شانداره جوړو شوو مراسمو کې خاورو ته وسپارل شو. حکومت داسې مراسم ورته جوړ کړي وو، لکه د یوه ولسمشر لپاره چې جوړېږي او سلگونو کسانو یې په جنازه کې گډون کړی و. هغه د خپل عمر تر پایه ۳۴ ناولونه او ۳۵۰ لنډې کیسې ولیکلې. پښتو ته یې هم ځیني لنډې کیسې او لیکنې ترجمه شوې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۱۰ |
| € | ۸۶،۲۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱،۱۰ |
| £ | ۹۶،۶۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیاني

# دې ټکو ته د دندې له بدلولو مخکې پام وکړئ!

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ایا له خپلې دندې خوښ یاست؟ ممکن هغه دنده ونه لرئ یا مو په اوسني دنده کې هغسې پرمختګ نه وي کړی، څنګه مو چې زړه غواړي. ممکن لومړي کې مو داسې فکر کړی وي، چې د دندې دا لومړی پیل به مو تر ښو موقفونو ورسوي. ممکن له دې مخکې مو ښه دنده درلوده، خو اوسني کاري چاپېریال مو زړه خوري. ممکن دا دنده مو د قرضونو یا نورو کورنیو اړتیاوو د پوره کولو په خاطر منلې وي، خو اوس د هغو قرضونو د نه خلاصون له امله ستاسې وجود کې د بلې دندې د اخیستو انګیزه مړه شوې ده.

د څېړنو له مخې، هر کس په اوسط ډول په ټول عمر کې ۹۰ زره ساعته کار کوي. دا وخت د هغه کار لپاره چې تاسې ورسره مینه نه لرئ، بېخي زیات دی. ایا د دندې د بدلولو یا د خپلې خوښې وړ د دندې د اخیستو په فکر کې یاستئ؟ که یاستئ، دا مقاله تر پایه ولولئ، دلته مو ځینو هغو ټکو ته اشاره کړې چې د دندې بدلولو په وخت باید په پام کې ونیول شي.

**۱ـ خپله علاقه مو او ارزوئ**

ممکن دا درته بېخي نوي او جالبه وي، څېړنې وایي، په سلو کې ۸۷ سلنه خلک له خپلو دندو سره مینه نه لري. له دندې سره مینه، د خلکو ترمنځ متفاوته ده. ممکن یو کار او دنده د یو کس لپاره په زړه پورې وي او د بل بیا بد ترې راځي. په هر حال، د هغه شرکت پر رسالت باور چې تاسې ورسره کار کوئ، له دندې سره ستاسې د مینې په پیدا کولو کې مهم رول لري.

څنګه کولای شی له دندې سره د مینې نه لرل جبران کړئ؟ کېدای شي ستاسې حللاره د دندې بدلول وي. د دې کار لپاره له هغو کسانو سره مشورې وکړئ، چې ستاسې د خوښې وړ دنده لري. تاسې د هغوی نظر او احساسات د خپلې خوښې وړ دندې په اړه ښه غور واورئ. په دې ډول تاسې پوهېږئ چې د دندې بدلول تاسې ته نوې او مثبته انګیزه درکولای شي او که نه.


ستاسې دنده باید داسې وي چې د شنبې سهار څنګه چې کاري دفتر ته داخل شی، هغسې فکر او احساس ولرئ، کوم مو چې پنجشنبې د کار پرېښودو پر مهال درلود. کله چې له کار او دندې سره مینه ولرئ، هېڅ یوه ورځ به هم تاسې ته عذاب ورکوونکې نه وي. کله چې له کار سره مینه ولرئ، نور به له کار او دندې ستړي نه شی.

**۲ـ د ټکنالوژۍ له چټک پرمختګ سره ځان همغږی کړئ**

ایا تاسې د ټکنالوژۍ له چټک پرمختګ سره ځان همغږی کړی دی؟ ایا هغه شرکت چې تاسې په کې کار کوئ، ستاسې هڅو او پرمختګونو ته ارزښت ورکوي؟ نن ورځ د ټکنالوژۍ پرمختګ او وده ډېره چټکه شوې ده، چې ډېری شرکتونه نه شي کولای له هغه سره په یو وخت ځان همغږی کړي. بیا هم له ټکنالوژۍ وروسته پاتې کېدل د ډېرو شرکتونو د مدیرانو لپاره یو ډول د اندېښنې وړ ګرځي. دا پس پاتې والی نه یوازې د مدیرانو روان او د کار په اړه د هغوی روحیه او انګیزه پیکه کوي، بلکې پر کارکوونکو هم دومره بد اغېز کوي. که غواړئ چې د خپلې خوښې وړ دنده واخلئ، ښه ده چې د لاسته راوړلو لپاره یې د ټکنالوژۍ له چټک پرمختګ سره ځان همغږی کړئ.

**۳ـ د دندې په اړه نوی لیدلوری پیدا کړئ**

ممکن ډېر مو لیدلي وي، کله چې کوم لوبغاړی د لوبې میدان ته ښکته کېږي، له ځان سره یو ډول حرکات کوي، یا یې له لوبې مخکې د تمرین پر مهال ځینې خاص حرکتونه زده کړي وي او بیا یې د لوبې په وخت کاروي. ډېر سیاسیون هم له ځان سره ډېری وخت خیالي صحنې جوړوي، دوی ځان په ستونزو کې راګیر او بیا له هغه د خلاصون لارې له ځان سره تکراروي. نو پر دې اساس د دندې له بدلولو مخکې تاسې باید خپل موقف ترسیم کړئ. پنځه کاله وروسته مو په کوم موقف کې ځان کول خوښېږي؟ لس کاله وروسته؟ پنځلس کاله وروسته؟ هڅه وکړئ چې دا ځان ته روښانه کړئ چې د دندې له بدلولو ستاسې موخه څه ده. ایا له اخیستو وروسته به تاسې ته خوشالي درکړي او که به له هغه هم ستړي یاستئ؟



له خانه وپوښتئ، ایا همدا اوس د دندې بدلولو لپاره مالي توان لرئ؟ مانا دا که تاسې زړه دنده پرېږدئ او تر هغې چې نوې دنده اخلئ، له مالي ستونزو سره خو به نه مخ کېږئ؟ ایا له دې به زیات مالي امتیازات پیدا کړئ؟

کله مو چې دا موخې د کاغذ پر مخ ولیکلې، وروسته یې له هغو ملګرو او د کورنۍ له غړو سره شریکې کړئ، چې رښتیا هغه ستاسې پرمختګ غوښتونکي وي.

**۴ـ له سختو اړیکو مه وېرېږئ**

که د دندې له بدلولو وروسته تاسې پښېمانه شوئ، پخواني مدیر ته مو زنګ ووهئ او ورته ووایئ چې غواړئ بېرته له هغه سره کار شروع کړئ. که دا وخت مو د کورنۍ کوم غړي یا دوست د دې مخالفت کاوه چې نه، پخواني مدیر ته مو زنګ مه وهی، هغه ته ووایئ چې پخوانۍ دنده مې تر نوې هغې په ځینو دلایلو ښه وه؛ ځکه خو غواړم چې بېرته هغې ته ور وګرځم. دا اندېښنه مه کوئ چې کېدای شي پخوانی مدیر مو تاسې ته (نه) ځواب درکړي. که یې درکړ هم، کومه خبره نه ده. دا له ځان سره فرض مه ګڼئ چې حتماً د هر شرکت او په هر حال کې یو سازمان تاسې ته له هغه سره د کار کولو چانس درکړي. ډېری خلک ښه لایق او مسلکي کارکوونکي وي، خو یو شرکت ته له تلو وروسته هغه ورته د (نه) ځواب ورکړي. پر ځان باور وکړئ او هغو شرکتونو ته د کار کولو لپاره لاړ شئ، چې ښه کاري بګړونډ لري. له دې مه وېرېږئ چې هغه به تاسې ته دنده در نه کړي. په ښه کاري چاپېریال کې دنده اخیستل ستاسې ورتیاوې راسپړي.

**۵ـ نوې دندې ته د رسېدو لپاره مو هره ورځ یوڅه کار وکړئ**

د دندې بدلول حتماً وخت غواړي، خو هره ورځ د لږ لږ کار په کولو سره کولای شی هغه ته د رسېدو چانس ډېر کړی. که د نوې دندې اخیستو لپاره مو هره ورځ یو ساعت کار وکړئ، دا له دې په څو واري ښه دی چې په یو وار هغې ته د رسېدو لپاره ۱۲ ساعته کار وکړئ. هرڅومره چې تاسې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره جدي وئ، هماغومره مو موخې حقیقي بڼه پیدا کوي.

**۶ـ ستاسې د خوښې وړ دندې لرونکو کسانو سره اړیکې ونیسئ**

خپل ټولنیز اکونټونه مو داسې عیار کړئ، چې له تاسې سره نوې دندې ته په رسېدو کې مرسته وکړي. داسې کسان د ځان ملګري کړئ چې هغه ستاسې د خوښې وړ دندې ولري. د هغوی فعالیتونه و ارزوئ، له نږدې ورسره خبرې وکړئ او ترې وپوښتئ چې هغوی له خپلو دندو څومره خوش دي.

# کورنیو چارو وزارت: د ټاکنو د امنیت لپاره ۷۲ زره امنیتي ځواکونه ګومارل شوي دي

امنیتي ارګانونه وایي چې د ټاکنو د امنیت لپاره یې ۷۲ زره ځواکونه مؤظف کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په راتلونکو نږدې دوو اونیو کې افغانان د خپل راتلونکي ولسمشر د ټاکلو لپاره رایې ورکوي.

دوی په تېرو ولسمشریزو او پارلماني ټاکنو کې هم د خوښې وړ کاندیدان وټاکل، خو د ډېرو لپاره بیا د سر په بیه تمام شول.

امنیتي اداري بیا دا ځل ډاډ ورکوي چې د رایه ورکوونکو د امنیت د نیولو لپاره افغان پوځیان پوره چمتو دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نصرت رحیمي په کابل کې یوه خبري کنفرانس ته وویل، څه باندې ۷۲ زره افغان پوځیان د ټاکنو د پروسې د امنیت لپاره مؤظف شوي.

هغه ویلې چې تر ټاکنو مخکې، د ټاکنو په ورځ او تر ټاکنو وروسته درېو پړاوونو ته د ښه امنیت پلان جوړ شوی او تطبیق یې روان دی.

نوموړي زیاته کړې: «زموږ اطمینان تاسو (ژورنالیستانو) ته د افغانستان خلکو ته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته او قدرمنو کاندیدانو ته همدغه دی چې پولیس، دفاعي ځواک، کشف او استخبارات به له ټولو امکاناتو استفاده وکړي، ترڅو وکولی شو چې په هغه شکل چې څېله د افغانستان د خلکو توقع ده، د کمېسیون توقع ده او د کاندیدانو توقع ده، په هماغه شکل د دغې مهمې، ملي او تاریخي پروسې امنیت ونیسو، ۷۲ زره افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه د انتخاباتو امنیت ساتي».



رحیمي ویلي، پر دې سربېره چې دا ۷۲ زره سرتېري به په څو ورځو کې لومړی درجه احضارات پیل کړي، تر ۳۰ زرو نور اضافي پوځیان هم د ټاکنو د امنیت لپاره ساتل کېږي.

په ورته کې د کورنیو چارو وزارت تر څنګ، د دفاع وزارت ویاند روح الله احمدزي هم ډاډ ورکړی چې افغان ځواکونه په بېلابېلو ولایتونو کې پر تصفیوي عملیاتو بوخت دي او د ده په خبره، له طالبانو یې زیاتي سیمې بېرته نیولي، څو ډېر خلک په ټاکنو کې برخه واخلي.

د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو ویاندویانو دا هم ویلي چې د افغان ځواکونو لخوا د ټاکنو ټول حساس او غیر حساس مواد ولایتونو ته انتقال شوي او له کوم ګواښ سره نه دي مخ شوي.

امنیتي اداري داسې مهال د ټاکنو د امنیت د ټینګښت په اړه خلکو ته ډاډ ورکوي، چې په تېرو څو ټاکنو کې هم د امنیت د نیولو خبرې شوې وې، خو ډېر ملکیان د وسله والو طالبانو او نورو وسله والو ډلو په بریدونو کې مړه او ټپیان شول.

په همدې حال کې د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډلې بیا ویلي چې د پخوانیو ټاکنو امنیت ته په کتو، باوري نه دي چې دا وار به ولسمشریزې ټاکنې له ښه امنیته برخمنې وي.

د دې ډلې مشر عزیز احمد تسل ازادي راډیو ته ویلي: «حکومت باید په دغسې پالیسیو باندې کار وکړي چې سر له اوسه چې د انتخاباتو په ورځ باندې خلک او هغه کسان چې رایه استعمالوي، د هغوی سر وساتل شي، د هغوی ګوتې پرې نه شي او ژوند یې خوندي وي، هغوی په اسانه باندې خپلې رایې وکارولی شي. پخوا چې کوم امنیت تجربه شوی، نو موږ ډېر باور نه لرو چې د افغانستان حکومت به دومره وړتیا ولري چې هغه د انتخاباتو په ورځ ولس ساتنه وکړي او هغه کسان چې رایه کاروي، هغه خوندي کړي».

دا په داسې حال کې ده چې وسله والو طالبانو چې په تېرو ټاکنو کې یې هم د شاوخوا ۴۰۰ بریدونو د تر سره کولو ادعا کړې وه، دا ځل د ولسمشریزو ټاکنو په اړه خلکو ته ګواښ کړی چې له رایې ورکولو ډډه وکړي.

دوی له ټاکنو نږدې دوې میاشتې مخکې د اګست په شپږمه ویلي وو، چې د ټاکنو مخه به نیسي او خپلو بریدونو ته به زور ورکوي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۱۷مه | ٤۲۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۲ | ۳۵ | ۳۰ | ۳٦ | ۳۰ |
| ۱۲ | ۱۵ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۳ | لمر ختل ۰٥:۳٦ | ماسپښین ۱۱:٤۹ | مازدیگر ۰۳:۲۰ | ماښام ۰٦:۰۰ | ماخوستن ۰۷:۲٥

## نړۍ



# ټرمپ: متحده ایالتونه تیار دي چې د سعودي د تېلو پر مرکزونو برید ته ځواب ورکړي

۳

## ملګري ملتونه: په برما کې مسلمانان د نسل وژنې له جدي ګواښ سره مخ دي



ملګرو ملتونو ویلي چې په میانمار یا برما کې پاتې روهینګیایي مسلمانان د نسل وژنې له جدي ګواښ سره مخ دي.

په برما کې د ملګرو ملتونو د حقیقت موندنې پلاوي خبرداری ورکړی چې د برما د پوځ له لاسه د یو میلیون روهینګیایي مهاجرو شویو کسانو بېرته ستنېدنه ناممکنه ده.

دغه پلاوي چې د میانمار د پوځ د بشري حقونو د سرغړونو په اړه اسناد راټول کړي، د یو رپوټ په خپرولو ویلي چې د میانمار حکومت د مسلمان اقلیت د نسل وژنې په وجه باید په لوړپوړو نړیوالو عدلي مراجعو کې تر قانوني تعقیب لاندې ونیول شي.

په دغه رپوټ کې راغلي چې د روهینګیایي مسلمانانو پر وړاندې د شکنجې، تېرې او بد چلند سربېره، په ۲۰۱۷ ز کال کې په راخین ایالت کې د میانمار د پوځ په عملیاتو کې د دغه اقلیت شاوخوا ۴۰ زره کورونه په بشپړه توګه ړنګ شوي دي.

په رپوټ کې همداشان راغلي چې د میانمار د پوځ په عملیاتو کې په زرګونو روهینګیایي مسلمانان وژل شوي او څه د پاسه ۷۴۰ زره روهینګیایان بنګله دېش ته په تېښته اړ شوي دي.

د ملګرو ملتونو د حقیقت موندنې پلاوي په رپوټ کې چې ټاکل شوې نن د سپټمبر په ۱۷مه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ته سپارل کېږي، راغلي چې د دولتي مقاماتو په ګډون، د څه دپاسه ۱۰۰ کسانو نوملړ برابر شوی چې په میانمار کې یې د مسلمانانو په نسل وژنه، بشر ضد جنایتونو او جنګي جنایتونو کې لاس درلودلی دی.

## ګوترېش: په منځني ختيځ کې روان تاوتریخوالی باید له سوله ییزو لارو حل شي



د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش ویلي، چې په منځني ختيځ کې د کړکېچ د کموالي لپاره باید پر سوله ییزو لارو چارو غور وشي.

د نوموړي له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي: «په منځني ختيځ کې وروستي کړکېچونه او په ځانګړې توګه د ایران اټومي پروګرام د جدي اندېښنې وړ دی او په سیمه کې د روان کړکېچ د کمېدو یوازینۍ لاره خبرې دي».

نوموړي دغه راز د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي تړون پر لاسلیکوونکو هېوادونو غږ کړی چې خپلو وعدو ته ژمن پاتې شي.

ګوترېش دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې په دې وروستیو کې په منځني ختيځ کې امنیتي وضعیت د بل هر وخت په پرتله ترینګلی شوی دی. د منځني ختيځ د کړکېچ په تړاو اندېښنې وروسته له هغې زیاتې شوې، چې د روانې اونۍ د شنبې په ورځ د سعودي عربستان د تېلو پر سترو مرکزونو باندې د بې پیلوټه الوتکو لخوا پرله پسې بریدونه وشول، که څه هم د دغو بریدونو پړه په ښکاره توګه د یمن حوثي یاغیانو پر غاړه واخیسته، خو امریکا او سعودي بیا پر ایران تور پورې کړی چې په دغو بریدونو کې یې لاس درلود.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په تازه ټویټ کې ګواښ کړی چې دغو بریدونو ته به په مناسب وخت کې ځواب ووایي.

## رئیس اجرائیه: طالبان مسئول قطع برق در ۱۱ ولایت می باشند



رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، در آخرین نشست نوبتی شورای وزیران، طالبان را مسئول قطع برق در یازده ولایت خواند و گفت که چنین عملکرد، هیچ کمکی به ارادۀ طالبان برای صلح نمی کند.

عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی که دیروز درآخرین نشست شورای وزیران پیش از برگزاری انتخابات ریاست‌جمهوری صحبت می کرد، گفت که متأسفانه طالبان پایه‌های برق را انفجار داده‌اند.

به گفتۀ عبدالله، این اقدام طالبان هیچ کمکی به ارادۀ طالبان برای صلح نمی‌کند وهیچ مشکل این گروه را حل نخواهد کرد.

وی در ادامۀ صحبت هایش افزود: «متأسفانه در نتیجه تخریب پایه‌های برق، یازده ولایت متأثر شده‌است و این اقدام طالبان، هیچ کمکی به فکر شان که آنها نیت و ارادۀ قوی برای رفتن به‌طرف صلح دارند، نشان نمی‌دهد».

این درحالیست که دو روز پیش، شرکت برشنا اعلام کرد که در نتیجۀ درگیری‌ها در بخش‌های ولایت بغلان، لین‌های برق وارداتی تاجکستان و ازبکستان به افغانستان، قطع گردیده است.

با اینحال شرکت برشنا، دیروز با انتشار خبرنامه ای گفته است که افراد تخنیکی این اداره به ولایت بغلان رسیده اند؛ اما به دلیل مشکلات امنیتی، تاکنون نتوانسته اند کار ترمیم پایه‌های منهدم شدۀ برق در بغلان را اغاز کنند.

عبدالله در بخشی از صحبت هایش از مسئولان وزارت‌خانه‌ها و ادارات دولتی خواست که در جریان پروسه انتخابات، با بی‌طرفی کامل به مردم خدمات ارائه کنند و از عمل‌کردهایی که شکل و رنګ کمپین‌های انتخاباتی به خود بگیرد، خودداری ورزند.

وی بر بی‌طرفی نهادهای امنیتی و دفاعی کشور در انتخابات ریاست جمهوری نیز تأکید کرد و از مسئولان امنیتی خواست تا بی‌طرفی نهادهای دولتی را حفظ کنند.


## ژوند

### پر بایسکېل د تګ راتګ ګټې



په ځوانۍ کې کېدای شي تاسو ټولو پر بایسکېل تګ راتګ کړی وي او چلولی مو وي. هغه کسان چې اوس یې خپل بایسکېلونه هغه د چا خبره د کندو شاته اچولي، که یې د سپرلۍ له دې ګټو خبر شي، هرو مرو به یې بېرته را باسي او ګټې به ور څخه اخلي. که پر بایسکېل ګرځی، رواني حالت به مو ور سره سم وي، د وزن له کموالي سره مرسته کوي، د بدن عضلې مو قوي کوي، سهارنۍ به په پوره اشتها خوری، سږي به مو سالم وي، د زړه او سرطان له ناروغیو به په امن وی، بدن ته به مو د منډې په پرتله کمه ضربه رسوي، وخت به مو سپمولی وي، د تلو راتلو پر لاره به ډېر ځایونه پېژنی، له جنسي پیاوړتیا به برخمن وی، ښه خوب به کوی، مغز به مو پیاوړی وي، بدن به مو غښتلی او چسپ وي، د ملګرو شمېر مو ډېروي او بل دا چې د ډېرو ناروغیو پر وړاندې مو د بدن مقاومت زیاتوي. دا چې ورزش د انسان د روغتیا ضمانت کوي، نو دا هم یو ډول ورزش بلل کېږي. خو یوه څه ته مو باید پام وي، دا چې د کابل هوا ډېره ککړه ده، نو پر بایسکېل د سپرلۍ پر مهال د خپلې روغتیا خیال ساتئ.

### ژوند ډېر مه درته سختوئ




نن سبا ستونزې او خپګانونه ډېر زیات دي. که د ډېر وخت لپاره ټلویزیون، خبرونه او ټولنیزې شبکې وګورئ، له ژونده زړه توري کېږئ. د توکو بیې، اقتصادي مسایل، کړکېچن حالات او دې ته ورته نور...

ځینې کسان ټوله ورځ په خپل هېواد کې د روانو بدو حالاتو په اړه فکر کوي. له ځان سره وایي، له دې بدو شرایطو سره به مقابله وکړای شم؟

تر څه وخت پورې به پر دنده پاتې شم، ایا د تقاعد په پیسو به مې ګزاره وشي؟

کله چې په دې ډول وېروونکو فکرونو کې ډوبېږئ، هرومرو به له وېرې او ژور خپګان سره مخ کېږئ. زما د ورځپاڼو لوستل خوښېږي، خو هڅه کوم چې پر منفي خبرونو ډېر تمرکز ونه کړم او هسې سرسري یې وګورم. یو ځای مې لوستي وو چې سهار مو په ښو خبرونو پیل کړئ او تمرکز پرې وکړئ. که یوه شوی چې په ورځپاڼه کې په زړه پورې خبرونه نشته، هڅه وکړئ چې په یو ډول ځان ترې تېر کړئ، ځکه که منفي خبرونه پکې وي، روح مو مسمومولی. د دې پر ځای چې په ذهن کې مو بیا بیا منفي خبرونه تکرار شي، ښه ده چې پر هغه څه تمرکز وکړئ چې موخې ته په رسېدو کې درسره مرسته کوي.